(c) ketabton.com: The Digital Library



# چونغرته !

(۱۹) ترانه

دغه راوري د بـــــاران شـــــاڅکي
که له خوږمن زړه د توپان شـــــاڅکي
یا ســــــــره ایشی په دره دره کـــي
هم د باران ، هم د توپـــان شـــــاڅکي

● ● ●

که سره یـــو شي دراڼي قطـــــــــري
وطـــــن به واړه شي ځپـــي ځپــــي
نرمې اوبه به شی تیـــــري تیـــــري
د گـــــلو پاڼي به چـــــړي چـــړي

● ● ●

هلته دغرو په څوکو څوکـــــو باندي
په تورو ویځـــــــو کي بریښنا ځغــلي
د خوب ځپــــلی ښار په خښته خښته
د ژونـــــــد د تالندي غوغـــــا ځغــلي

● ● ●

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چونغرته !

(۲۲) ترانه

اې د شعــــــرونو او الهــامونو چونغره
بیـــا مې مغـــــزوکې ترانې خوځې
ستـــــا د کمـــــرونو په قدم قدم کې
د ژونـــــد د مینې زلـــــزلې خوځې

• • •

گــــــلان خپاره کړه چې بلبل دې شمه
خپـــله مستۍ کې یو غوغـــا خـوره کم
بې روحـــــه تړو ته دې ســـــا ورکم
په مـــړو رگـــوکې دې رڼا خـــوره کم

• • •

ستـــا په هر مـــوټۍ کې د ژونـــد سرود
له ورایه وینـــــم چې ثپـــــان خوځې
ځـــــــکه زما په لیـــــونۍ شعر کې
د ځـــــوانو هیـــلو یو جهـــان خوځې

• • •

